# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۰مه | د ۲۰۲۱ د فبرورۍ اتمه | ۶۷۷مه گڼه


# د سولې پر ځنډني بهیر اندېښنې:

## دوستم: که د افغان سیاسیونو اختلافات دوام وکړي، طالبان به د میدان گټونکي شي



۳

په پاکستاني استبداد کې د (پي ټي ايم) لوړېدونکی غږ
۲ مخ

کار بند کمال‌خان در زمان ریاست جمهوری داودخان
۲ مخ

مناسبې جامې اغوستل او مثبت اغېز يې
۵ مخ

## ملگري ملتونه: طالبانو له ژمنې سره سره، لاهم له القاعده شبکې سره اړیکې نه دي پرې کړې

د ملگرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو د تحلیل او څارنې ډلې په خپل ۲۷ام راپور کې له طالبانو سره د القاعده ډلې او نورو ترهگرو ډلو له اړیکو پرده پورته کړې ده.

په یاد راپور کې راغلي، چې طالبانو له ژمنې سره سره د القاعده په گډون له نورو ترهگرو ډلو سره اړیکې نه دي پرې کړې. د سرچینې په خبره، په دې وروستیو کې په افغانستان کې د القاعده ډلې د یو شمېر غړو وژل کېدل د دې ښکارندویي کوي، چې طالبان لا هم له ترهگرو ډلو سره پیاوړې اړیکې لري او د امریکا- طالبانو د دوحې هوکړې ته ژمن نه دي پاتې شوي. دغې ډلې په خپل راپور کې د اټکل له مخې، په افغانستان کې د القاعده شبکې اړوند کسانو شمېر د ۲۰۰ او ۵۰۰ تنو تر منځ ښودلی دی.

بلخوا بهرنیو چارو وزارت هم د یاد راپور هرکلی کړی او زیاته کړې یې ده چې دوی هم په همدې باور دي چې طالبانو پر خپلو ژمنو عمل نه دی کړی. یاد وزارت له خپلو نړیوالو شریکانو غوښتي چې طالبان د تاوتریخوالي درولو او سراسري اوربند ته مجبور کړي، څو د خبرو له لارې په هېواد کې تلپاتې سولې ته لار هواره شي.

په ورته مهال د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح هم یاد راپور ته په اشارې ویلي، چې د القاعده شبکې او طالبانو اړیکې لاهم پر خپل ځای دي.

## اغزن تار د ډیورنډ فرضي کرښې مېشت قومونه له گڼو ستونزو سره مخ کړي



۳ مخ


## کاروبار

۴ مخ


### پوما

پوما پر خپلې مرکزي څانگې سربېره، په ټوله نړۍ کې ۳۰۰ نورې څانگې هم لري، سلگونه کسان کار ورسره کوي او د سپورټي محصولاتو په برخه کې تر ټولو د باور وړ کمپنۍ او ازمایل شوی برنډ دی.



## کرنې ریاست: روان کال په لغمان کې ۹۴ ټنه شات تولید شوي دي



د لغمان د کرنې ریاست چارواکي چې روان کال په دغه یاد ولایت کې ۹۴ ټنه شات تولید شوي دي.

د یاد ولایت د کرنې رییس جمیل خوشال ویلي، د لغمان په مرکز مهترلام، الینگار، الیشنگ او قرغیو ولسوالیو کې د شاتو مچیو ۹۶ فارمونه د خصوصي سکتور او دولت له لوري جوړ شوي، چې تر نهه زره او ۵۳۶ کورنیو په شاوخوا کې مچۍ پکې روزل کېږي.

د یاد ولایت د کرنې ریاست په خبره، اوسمهال په لغمان کې ډول ډول شات تولیدېږي او خورا مشهور یې د شوتل یا شبدر او لاچي دي، چې د لغمان په گډون، ننگرهار، کابل او نورو گڼو ولایتونو ته د پلور په موخه صادرېږي.

د یادونې ده چې لغمان د موسمي او غوره اقلیمي شرایطو په درلودلو سره د شاتو مچیو روزلو او شاتو تولید لپاره مناسبه هوا او چاپېریال لري او دا د دې لامل شوې، چې په دغه ولایت کې د شاتو مچیو روزلو صنعت ورځ تر بلې وده وکړي.

## اتمر: حمله های راکتی از آنسوی خط فرضی دیورند پذیرفتنی نیست



وزیر خارجۀ افغانستان به سفیر پاکستان در کابل گفته است که حمله های راکتی از آنسوی خط فرضی دیورند پذیرفتنی نیست. محمد حنیف اتمر وزیر خارجۀ افغانستان با منصوراحمد خان سفیر پاکستان دیروز در مقر وزارت خارجۀ افغانستان در این باره دیدار کردند.

در خبرنامۀ وزارت گفته شده است که آقای اتمر در این ملاقات از سفیر پاکستان خواست که نگرانی‌های افغانستان را در پیوند به حمله‌های راکتی به وزیر خارجۀ پاکستان برساند.

در خبرنامۀ همچنان گفته شده که وزیر خارجۀ افغانستان روی حل مشکلات از طریق گفتگو تأکید ورزیده است. این در حالیست که پیشتر گزارش شده بود که ده‌ها راکت اواخر هفتۀ گذشته از آن سوی خط دیورند بر ولسوالی شلتن ولایت کنر و ولسوالی گوشتۀ ولایت ننگرهار پرتاب شده است.

هرچند برخی از مقام های افغان اردوی پاکستان را در این حملات دخیل می دانند اما مقام های پاکستانی هنوز تبصره نکرده اند.

در عین حال باشنده گان هر دو طرف خط فرضی دیورند می گویند نصب سیم خاردار در امتداد خط دیورند بر زندگی مردم دو طرف این خط تاثیر منفی گذاشته است. اما مقام‌های پاکستان می‌گویند با وضع محدودیت بر رفت و آمد در دو طرف خط دیورند حملات تروریستی دراین کشور به اندازه چشم گیر کاهش یافته است.




## سرلیکنه

### په پاکستاني استبداد کې د (پي ټي ایم) لوړېدونکی غږ

له زیاتو خنډونو سره سره د پښتون ژغورنې غورځنگ ( پي ټي ایم) بریالی شو چې په پېښور کې د ارمان لوڼي لویه تلین غونډه جوړه کړي. ارمان لوڼی چې د پښتون ژغورنې د غورځنگ له بنسټگرو څخه و، تېر کال په بلوچستان کې د پاکستاني نظامیانو له خوا شهید شو. د پښتون ژغورنې غورځنگ پرون د ارمان لوڼي په یاد کې او په دې برخه د عدالت د غږ اوچتولو لپاره لسگونه زره کسان را ټول کړي وو.

که څه هم پاکستاني استبدادي رژیم د دې غونډې د مخنیوي لپاره پراخې هڅې وکړې، خو بیا هم پي ټي ایم بریالی شو. تر غونډې مخکې د پښتون ژغورنې غورځنگ ځینې غړي ونیول شول، ځینې وگواښل شول، د رسمي نظامیانو تر څنگ استخباراتو هم د دې غونډې پر ضد ځینې سیمه‌ییز ناخبره او جاهل خلک وکارول. د دې تر څنگ د غونډې لپاره په ټاکل شوي ځای کې یې اجازه ورنه کړه، غونډه په بل ځای کې وشوه. غونډې ته ورتلونکې لارې ستونزمنې شوې. هغه خلک چې غونډې ته ورتلل، په لاره کې ودرول شول، وځنډول شول، وپلټل شول، ورټل شول او سپکې سپورې ورته وویل شوې او آن ځینې یې ووهل شول، خو له دې ټولو ظلمونو سره سره بیا هم لویه غونډه وشوه. تر دې حیرانوونکې دا ده، چې د دې غونډې د مخنیوي لپاره په سیمه کې په همدې ورځ ټلیفوني شبکې او انټرنېټ له کاره لوېدلي وو. په دې سره دوی هڅه کوله چې د غونډې له نوي ځایه خلک ناخبره وساتل شي او بل دا چې له غونډې څخه نور خلک او نړۍ خبره نه شي.

له نېکه مرغه د پاکستاني پوځ او استخباراتو دا استبداد بیا هم ناکام شو. پراخه غونډه وشوه، لسگونو زرو کسانو پکې گډون وکړ، خلک پرې خبر شول او آن که څوک خبر هم نه وو، له دې امله خبر شول چې پاکستاني استبدادي رژیم ټیلفوني شبکې بندې کړې وې او چې خلک یې په لامل پسې گرځېدل، نو پوه شول چې د پښتون ژغورنې غورځنگ غونډه ده او پاکستاني استبدادي رژیم هڅه کوي چې په دې ډول کارونو یې مخه ونیسي. پاکستاني ظالم چارواکي چې پر پښتون ژغورنې غورځنگ څومره فشار راوړي، د پښتون غږ همدومره لوړېږي.

پاکستانی استبدادي او وحشي رژیم د دې پر ځای چې د پښتنو غږ واوري، د شهید ارمان لوڼي او نورو شهیدانو قاتلین ونیسي، محاکمه یې کړي، تښتول شوي بندیان خوشې کړي، په قبایلي سیمو کې ورک کسان له خپلو پټو زندانونو خوشې کړي او له پښتنو سره خپله دښمني ودروي، لا زیات له پښتنو سره تشدد کوي او آن د هغوی پر ضد هم گامونه اخلي چې د خپل مظلومیت غږ پورته کوي.

اوس دا پر ټولو پښتنو، که هغه د پاکستاني رژیم تر کنټرول لاندې سیمو کې دي، که په افغانستان او نوره نړۍ کې دي، د دوی ټولو دنده ده چې په یوه غږ د پښتون ژغورنې غورځنگ تر څنگ ودرېږي او هر ډول ملاتړ یې وکړي. د دې تر څنگ د بشري حقونو سازمانونه او هغوی چې د بشر د حقونو خبرې کوي، باید د پي ټي ایم غږ واوري، ملاتړ یې وکړي او له پښتنو سره مرسته وکړي چې د پاکستاني پوځ او استخباراتو له ظالمانو او وحشیانه کړنو او تسلط څخه خلاص شي.

# کار بند کمال‌خان در زمان ریاست جمهوری داودخان

کاندید اکادمیسین سیستانی

بی‌بی‌سی در کمتر از دوماه (از ۸ نومبر۲۰۲۰ تا ۳ فبروری۲۰۲۱) دومین بار است که خبرآغاز آب‌گیری بندکمال‌خان را پخش میکند و هرباری که این موضوع را مطرح کرده سوال عمده اش اینست که آیا این بند حقابه ایران را کاهش نمیدهد؟ ومسئولان بند جواب میدهند که نه خیر! کاهش نمیدهد و برطبق معاهده‌ای که موسی شفیق صدراعظم افغانستان باعباس هویدا صدراعظم ایران درماه حوت سال ۱۳۵۱به امضا رسانده، افغانستان متعهد شده تا ۲۲ مترمکعب آب فی ثانیه را بعنوان حقابه و ۴ مترمکعب اب فی ثاینه را بخاطرحسن همسایگی به ایران بدهد، با اکمال بندکمال‌خان نیز افغانستان به تعهد خود پای بند است وحقابهٔ ایران را مطابق معاهده مذکور می پردازد.

بنابراین پخش اخبار بی‌بی‌سی درمورد بندکمال‌خان قسماً تحریک آمیز است و ذهنیت مردم سیستان رامغشوش میکند. درحالی که هدف اعمار این بند کنترول آبهای سیلابی هلمند و جلوگیری از تخریبات آن به زمینهای زراعتی مردم نیمروز وسیستان است.

صاحب نظران جهان بدین باوراند که بعد از این جنگ میان ملل برسرنفت نیست، بلکه برسر آب و منابع ابی خواهد بود. همسایه های ما که عادت کرده اند تا سالانه صدها میلیارد مترمکعب آب رودخانه های ما را بطورمجانی ببرند، و کشورهای خود را سر سبز وشاداب گردانند، وقتی میشنوند که افغانستان میخواهد از این سرمایهٔ طبیعی وخدا دادی به نفع مردم و کشورخود استفاده کند، در صدد سنگ اندازی در راه سعادت مردم ما میگردند.

درشرایطی که افغانستان خود با مشکلات فراوان اقتصادی و امنیتی و فقر وبیکاری بر اثر شیوع ویروس کرونا و جنگ‌های نیابتی روبرو است، طبعاً نمیخواهد با درد سر همسایگان طماع خود روبرو گردد. بنابراین باید نیت سوء گزارشگر بی‌بی‌سی را در پشت ورقش خواند و تامل کرد که چرا بجای اینکه خبرآغاز آبگیری بندکمال‌خان از سوی مسؤلان وزارت انرژی و آب افغانستان به اطلاع عامه رسانده شود، خبرگزار بی‌بی‌سی با پخش یک تعداد عکس های هوائی وزمینی از موقعیت بند وچگونگی استحکامات آن را در اختیار استخبارات منطقه میگذارد تا قبل از آنکه به بهره برداری گذاشته شود، دشمنان در صدد تخریب آن برآیند.

دراینجا لازم است تا بگویم که کاربندکمال‌خان به دستور و هدایت شخص داودخان در زمان ریاست جمهوریش آغازشده است، مگر دریکی دوجای از نوشته‌ها وتبصره‌های هموطنان گفته شده که تهداب بندکمال‌خان درسال ۱۳۴۵یعنی در زمان دموکراسی ظاهرشاهی گذاشته بود؟

هریکی ازما که بیشتر از ٦۰ سال عمرداریم تاریخ زنده وطن خود ویا لا اقل شاهد کارکردهای حکومت های افغانستان استیم. همه میدانند که درسال ۱۳۴۵ هنوزمعاهده آب هلمند میان افغانستان و ایران به امضا نرسیده بود و حکومت‌های افغانستان (داکتر محمد یوسف خان و میوندوال و نوراحمد اعتمادی و داکتر ظاهر) و در رأس شان ظاهرشاه، با وجود داد و فریاد مکررمردم نیمروز که سیلابهای هلمند هرساله محصولات به ثمر رسیده آنها را می بلعید و نابود میکرد و خواهان بستن بندی بودند، هیچ یکی جرأت نداشتند در بارهٔ خرابی‌های وارده رودخانه هلمند چند دقیقه صحبت کنند تا چه رسد به ساختن بندی بر رودخانه هلمند.

من خود یکی از فرزندان نیمروز هستم و تاریخ مد وجزر هلمند و تقاضای مردم نیمروز را برای بستن بند آب بخاطر دارم، درحالی که سیلاب‌های رود هلمند به وسیله «شیلهٔ چرخ» طی سالهای ۱۳۳۵- ۱۳۵۰مثل اژدها به دور قلعه گنگ حلقه زده بود و هر لحظه امکان تخریب کردن گوره‌های خاکی اطراف قلعه کنگ و شهر و بازار آن بیشتر شده میرفت، اما دولت توان فرستادن دو بلدوزر را نداشت تا خاکریزهای اطراف مرکز حکومتی کنگ را تقویت کند.

من در سال ۱۳۴۷ مدیر لیسهٔ ابوداودسجستانی در ولسوالی کنگ بودم. روزی وکیل دوست محمدخان گورگیج وکیل نیمروز در ولسی جرگه به لیسه ابوداود آمد و میخواست با شاگردان یکی از صنوف ملاقات کند، به او گفتم اگر از ساختن بندی در نیمروز خبر داری و به شاگردان بگوئی از شما خوشحال خواهند شد. وکیل دوست محمدخان گفت: شکایت وخواست مردم نیمروز را با پادشاه درمیان گذاشته ام؛ اما شاه فرموده اند تا زمانی که مسئله تقسیم آب هلمند با ایران یک طرفه نگردد، ساختن هیچگونه بندی در نیمروز ممکن نیست .

بنابراین، اگر درسال ۱۳۴۵ یا ۱۳۴۷ خبری از بند کمال‌خان درمیان می بود هم من وهم وکیل دوست محمدخان وهم مردم نیمروز از آن مطلع می بودند، درحالی اصلن چنین خبری نبود و هر کس که تاریخ بنای بندکمال‌خان را به سال ۱۳۴۵یعنی دوران شاهی پیش برده است، باید بداند که چنین ادعایی حقیقت ندارد وحقیقت آن است که بعد از امضای معاهده آب هلمند بین افغانستان و ایران درسال ۱۳۵۲ زمینه اعمار بندکمال‌خان در نیمروز میسرگردید و شهید داودخان در زمان ریاست جمهوری‌اش بعد از آنکه دانست ایران در پرداخت کمک‌های وعده داده شده شاه ایران به افغانستان تعلل میورزد و هدف ایران امتیاز خواهی بیشتر آب از رودخانه هلمند است، دستور میدهد تا دولت امکانات خود در ساختن بندکمال‌خان بکار گیرد. و پس از آن است که پروژه بندکمال‌خان از اولویت‌های دولت جمهوری میگردد.

موثق ترین معلومات را دراین زمینه جناب انجنیرعبدالحنان روستائی، در رساله «سرنوشت‌زار پروژهٔ زراعت و آبیاری نیمروز»، از روی پلان هفت سال داودخان چنین بررسی کرده است: «اعمار بند کمال خان .... در سال ۱۹۷٦ یک بررسی عمومی برای اعمار این بند و مخرج‌ها و ساختمان‌های دیگر آن از طرف شرکت امریکایی به نام ایکو و شرکت هندی به نام واپیکا و شرکت مشاور سویسی به نام الکترووات صورت گرفت. این تحقیق که مدت شش ماه طول کشید، حاوی یک طرح پلان پروژه و اطلاعات و اسناد اعلان داوطلبی برای برآورد کنندگان بود. در مرحلهٔ دوم طرح ساختمان و اعلان خرید ماشین آلات و دستگاه‌های تخنیکی که همچنان مراقبت و تدابیر امنیتی را در بر داشت، تمام گردید. کار ساختمان پروژه در سال ۱۹۷٦ شروع و قرار بود که در سال ۱۹۸۳ به پایان برسد. نظر به قراردادی که بین وزارت آب و برق وشرکت واپیکا صورت گرفت، کار مراحل اول و دوم پروژه در ساحهٔ عمل پیاده شده و به اتمام رسید.

قرار بود که کار مرحلهٔ سوم پروژه در سال ۱۹۸۰ میلادی آغاز شود. ولی بعد از تغییرات اوضاع سیاسی افغانستان در سال ۱۹۷۸ تأمینات مالی پروژه از طرف امریکا کاهش یافت و در اخیر سال ۱۹۷۹ به کلی قطع گردید. به دلیل یک سلسله مشکلات ناشی از جنگ، شرکت سویسی الکترووات نیز در سال ۱۹۷۹ افغانستان را ترک نمود که بدین ترتیب بقیه کارهای پروژه ناتمام ماند. کارهای ساختمانی تا موقع آغاز تجاوز روسها حدود ۳۰ در صد پیش رفته بود، که متأسفانه در طول سالیان جنگ مورد تخریب و چور و چپاول قرار گرفت.

**هدف پروژه**

اعمار بندکمال‌خان دو هدف را دنبال میکرد، یکی تأمین آبیاری و تولید برق برای منطقه و دیگر جلوگیری از آبخیزی‌ها. جهت تکمیل آن میبایست دو دیوار به طول ۱۷۰۰ متر و ارتفاع ۱۲ متر اعمار می گردید. زیرا با آبخیزی‌ها، ساحات زراعتی زیر آب شده و خساره مند می شوند و از طرف دیگر این آب خیزی‌ها باعث تخریب و لغزش سواحل دریای هلمند نیز میگردد. تخریب روستاها و شهرهای زرنج، کنگ و غیره به صورت کلی مدهش و خانه برانداز است. زیرا خانه‌های مسکونی درین مناطق از گل ساخته شده و توان مقاومت در برابر آب را ندارند. در سالهای سیلابی بیش از صد هزار هکتار زمین در جوار منطقه خوابگاه و پای‌نتر از آن صدمه می بیند (پلان هفت ساله، ص۱۹۳).

به همین دلیل اهداف اساسی این پروژه در قدم اول جلوگیری از آبخیزی، تنظیم آب و استفادهٔ اعظمی از منابع نادر آب بود. همچنان در مواقع آب خیزی بایست آب اضافی توسط دو کانال طبیعی[قدیمی] جناحی (رود بیابان و رود خشک) به جهیل گودزره هدایت می یافت. به کمک کانالهای چپ و راست بند کمال خان امکان انکشاف و اصلاح ۷۵ هزار هکتار زمین در مرحلهٔ اول میسر است و از جانب دیگر امکانات آبیاری مناطق پایین دریای هلمند نیز موجود است. به مقصد جلوگیری از سیلاب و رهنمایی آن به گود زره قرار بود در پلان هفت سالهٔ زمان داود خان یک بند خاکی در حصه قلعه افضل خان اعمار و ساحهٔ اطراف این ناحیه از طریق بند تحفظی بین بند کمال خان و قلعهٔ افضل خان حفاظه گردد. احداث پر چابهٔ آب و آخذهٔ کانالهای راست و چپ توأم با ساختمان دروازه‌های کنترول آب و سرکهای حفظ و مراقبت و احداث زاهبرها در پلان هفت ساله پیش بینی شده بود.

هدف دیگر پروژه، آبیاری و استفاده از ۱۱۹۰۰۰ هکتار زمینهای موجوده و۵۵۰۰۰ هکتار زمینهای بایر در ولایت نیمروز بود. در انکشاف بعدی قرار بود که ۲۱۰۰۰۰ هکتار زمین در چوکات این پروژه تحت آبیاری قرار گیرد.

**تولید برق**

به علاوه قرار بود که یک کارخانهٔ تولید برق به ظرفیت ۹ میگاوات فی ساعت در منطقهٔ قلعهٔ افضل خان اعمار گردد، که بدین ترتیب اساسات زیربنای صنعتی و تخنیکی در منطقه به خصوص در شهر زرنج گذاشته می شد (شهر زرنج از چند سال بدین‌سو از برقی که از ایران خریداری می شود استفاده می کند). اضافه بر آن باید یک بند آبگردان با تمام واحدهای تنظیم آب و جوی‌های خروج آن نیز با ظرفیت ۱۹۱۵ مترمکعب فی ثانیه اعمار گردد و همچنان در نظر بود که یک کانال برای جلوگیری از آب خیزی کشیده شود که آبرا به جهیل گود زره هدایت نماید.

**کانالهای عمده بندکمال‌خان**

بندکمال‌خان دارای دو کانال بوده که به طرف شرق و غرب امتداد می یابند. کانال غربی زمینهای گود زره را آبیاری می کند. کانالهای شرقی (زرکن و زورکن) زمینهای مناطق قلعه فتح، شهر غلغله، امیران، مناطق غربی چخانسور و شرق ولسوالی کنگ را آب می دهد. این کانال از طرف شرق به شمال الی لاش جوین در ولایت فراه امتداد دارد، که می تواند زمینهای زراعتی را تا ولسوالی لاش جوین آبیاری نماید. کانال هایی که به گود زره می پیوندند، می توانند برای ثبات، استحکام و صیانت محیط زیست و تربیه و پرورش ماهی مورد استفاده قرارگیرند.

قرار پلان‌های انکشافی قبلی باید، کانال دیگری به امتداد کانال لشکری نیز اعمار گردد، که این کانال پسانتر به سه کانال کوچکتر انشعاب نموده و مناطق کنگ، ابراهیم آباد و سیخسر را آبیاری نماید. همچنان انتظار می رفت که کانال کنگ برای آبیاری مناطق «میل کورکی» به آنطرف امتداد و به کانال صمدی وصل گردد. اعمار یک بند دیگری در منطقهٔ قریهٔ حاجی محمد افضل خان برای تدارک آب مناطق «تره خون»(درسمت چپ رودخانه) یک امر حتمی و لازمی است. چه برای آبیاری در آنجا ضرورت به چندین کانال می باشد.»

فاز اول احداث بندکمال‌خان در زمان محمد داود، اولین رئیس‌جمهوری افغانستان آغاز شد، اما به دلیل جنگ داخلی ناتمام ماند. فاز دوم که در ۲۰۱۱ آغاز شد و شش سالرا در برگرفت. و فاز سوم که به نصب توربین‌ها و تأسیس یک نیروگاه برق و ایجاد کانال‌های آب اختصاص دارد، در ۲۵ اپریل ۲۰۱۷ آغاز شد. قرار است فاز سوم بند کمال خان ظرف چهار سال باصرف ۱۰۰ میلیون دالر به پایان برسد.

حال که خبر اکمال بندکمال گوشهای هموطنان را نوازش میدهد، میخواهم این سخنان جهانگرد افغان جناب حسن بیژن را نقل کنم که میگوید: «روح داودخان نخستین رئیس‌جمهور و مؤسس و بانی نظام جمهوریت در افغانستان شاد باشد. با آغاز بهره برداری از بند کمال‌خان در حقیقت امر یکی از آرمان‌های محمد داود که بخاطر اعتلای افغانستان در سر داشت، برآورده گردید.

روح تتسو ناکامورا نیز شاد باشد که با استفاده از اندوخته‌های علمی خود آب‌های افغانستان را در شرق افغانستان مهار نمود و پروژه‌های بزرگ آبیاری را بخاطر کشت و زراعت و بهبود زندگی مردم رویدست گرفت.

افتخار به آنعده انجنیران و مهندسان افغان که با صداقت و روحیه وطنپرستی در اعمار بند کمال خان سعی و تلاش خستگی ناپذیر بخرچ دادند.امیدوارم این پروژه بزرگ که در ادامه حیات آن خیر و فلاح مردم شریف و نجیب ما نهفته است ، از شر کوردلان و دست اندرکاران فساد و شرارت در امان باشد.»

# د سولې پر ځنډني بهیر اندېښنې:

## دوستم: که د افغان سیاسیونو اختلافات دوام وکړي، طالبان به د میدان گټونکي شي



سره له دې چې په وروستیو کې د سولې پر تېپه ولاړ بهیر نیوکې ډېرې شوي، خو په هېواد کې د سیاسی لورو اندېښنې هم مخ پر زیاتېدو دي. نړیوالې رسنۍ او سیاسي شنونکي په دې اند دي چې د افغانستان د سولې بهیر کاواکه دی، ډاډمن نه دی او بیا کتنې ته اړتیا لري، خو په کور د ننه بیا سیاسیون په دې باور دي چې د بین الافغاني مذاکراتو په تېپه ولاړ بهیر ورته د منلو نه دی. تازه د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله ویلي چې طالبان په بېلابېلو پلمو د سولې بهیر ځنډوي، خو طالبانو بیا په ځلونو افغان لورى د مذاکراتو د ځنډ لامل بللی دی.

د سیمې هېوادونو ته د طالب مشرانو تر سفر وروسته د افغان حکومت ځینو چارواکو غبرگون ښودلی او په خبره یې، د طالبانو دغه چلند د سولې په بهیر کې ځنډ او خنډ رامنځ ته کړی دی. د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله ورمه ورځ ناوخته په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی له پوره صلاحیت او ملاتړ سره په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره تیار دی، خو طالبان په غیر معقولو دلایلو او پلمو په دغه بهیر کې خنډ او ځنډ رامنځ ته کوي. نوموړي ویلي وو چې طالبان په بین الافغاني مذاکراتو کې د گډون پر ځای او په دغه بهیر کې د پرمختگ راوستلو پر ځای د سیمې هېوادونو ته په سفرونو لگیا دي او دې مسئلې د سولې بهیر له خنډ او ځنډ سره مخ کړی دی. هغه وایي: «د افغانستان د اسلامي جمهوریت پلاوی همدا اوس په دوحه کې دی. دوی پوره صلاحیت او هر اړخیز ملاتړ له ځان سره لري. ټاکل شوې وه چې د تگلارې تر نهایي کېدو وروسته دویم پړاو مذاکرات پیل شي، خو له بده مرغه طالبان د پلمو په جوړولو او د غیر معقولو دلایلو په راوړلو سره په مذاکراتو کې د ځنډ سبب دي».

ډاکټر عبدالله عبدالله همدا راز وایي، طالبانو ته په کار وه، چې په دې حساس وخت کې یې د سفرونو پر ځای او د پلمو د راوړلو پر ځای پر بین الافغاني مذاکراتو تمرکز کړی وی او د تاوتریخوالي پر کمولو هوکړې ته رسېدلي وای. هغه ویلي: «دوی د افغانستان پر قضایاوو د بحث پر ځای، د جگړې د ختمولو او مسلمان وژنې د پای ته رسولو پر ځای، لا د خلکو دردونه ډېر کړي دي. دوی په افغانستان کې د ناورین د ختمولو پر ځای پر سفرونو او حاشیوي مسایلو بوخت دي. دې ډلې همداسې تاوتریخوالي او جگړې ته ادامه ورکړې ده».

عبدالله د سولې مذاکرات د افغانستان لپاره یو بې ساري فرصت بللی او پر طالبانو یې غږ کړی، چې په دې توگه دې دغه مهم فرصت نه ضایع کوي. هغه تمه ښودلې چې طالبان ژر تر ژره بېرته د مذکراتو مېز ته راوگرځي او د روانې جگړې پر ختمولو توافق وکړي.

له دې سره جوخت د ولسمشر غني پخواني لومړي مرستیال هم د سولې د روان بهیر په اړه خپله اندېښنه ښودلې ده. هغه له محمد محقق سره د لیدنې پر مهال ویلي چې د سولې له خبرو سره هممهاله پر طالبانو د نظامي فشار اړتیا ده. د ده په خبره، که پر دغه ډله فشار را نه وستل شي، نو سولې ته نه تیارېږي. هغه همدا راز په کور د ننه د سیاسي ځېرو پر یووالي هم ټینگار کړی دی. نوموړي ویلي، که افغان سیاسیون په خپلو کې د نظر یووالی ونه لري، اختلافات همداسې دوام وي، نو په خبره یې، میدان به طالبان وگټي.

هغه پر ټولو سیاسي جهتونو غږ کړی چې په خپلو کې واټن کم کړي؛ ځکه دمگړی د افغان حکومت سیاسي جغرافیه له خطر سره مخ ده او باید ټولو اړخونه د طالبانو پر وړاندې متحد شي.

# پلټونکې اداره: د کرونا په بودجه کې پر فساد تورن ۲۲۳ کسان لویې څارنوالۍ ته معرفي شوي




د افغانستان پلټونکې اداره وایي چې په ۱۳۹۹ مالي کال کې کرونا ویروس ته په ځانگړې شوې بودجه کې د فساد په اړه په ۲۴ ولایتونو کې د دغې ادارې څېړنې بشپړې شوې دي.

د یادې ادارې مشرې غزال حارس ملت ته د دولت د حساب ورکولو په پروگرام کې وویل چې د دوی د څېړنو پایلې ښیي چې د کرونا ویروس په بودجه کې په لوړه بیه د تجهزاتو پیرودلو، ناسم مدیریت او په دنده کې د غفلت له امله په ۲۴ ولایتونو کې ۲۲۳ تنه حکومتي چارواکي او مامورین لویې څارنوالۍ ته معرفي شوي دي.

حارس زیاته کړې، چې په دغو شکمنو کسانو کې د والیانو په گډون لوړپوړي حکومتي چارواکي هم شامل دي. نوموړې ویلي: «تر اوسه د ۲۴ ولایتونو راپور بشپړه شوی دی، له دغو ۲۴ ولایتونو د ۱۵ ولایتونو قضیې لویې څارنوالۍ ته سپارل شوي دي. نور موارد هم تر څېړنو لاندې دي چې کوم یو یې لویې څارنوالۍ ته معرفي کېږي، ۲۲۳ تنه له ولایتونو او ۹ تنه یوازې له کابل نه لویې څارنوالۍ ته معرفي شوي دی.»

هغې د بېلگې په ډول د ۲۴ ولایتونو په سطحه ۹۰۷۲۰۰ میلیون افغانۍ ارزیابي کړې چې د دغې ادارې له نظره، په څه باندې ۳۳۰ میلیون افغانیو درمل او تجهزات د بازار له بیې څخه پورته اخیستل شوي دي.

حارث د افغانستان په بازارونو کې د بیو توپیرونو ته په اشارې ویلي: «په ټوله کې له یو ولایت څخه بل ولایت ته په بیو کې ډېر توپیر دی، مثلاً که تاسو په ۲۴ ولایتونو کې محافظتي کیټونه ارزیابي کړئ، ۵۵۰ افغانیو څخه بیا تر ۹۰۰۰ افغانیو پورې اخیستل شوي دي.»

د یادونې ده چې د افغانستان لویې څارنوالۍ هم نږدې یوه میاشت مخکې ویلي وو چې د کروناویروس په بودجه کې د فساد له امله د ځینو ولایتونو قضیې دوی ته رسېدلې دي.

# اغزن تار د ډیورنډ فرضي کرښې مېشت قومونه له گڼو ستونزو سره مخ کړي



پاکستان د ډیورنډ فرضي کرښې په نږدې ټولې برخې باندې کټاره او اغزن سیم غځولی دی. دغې چارې د کرښې دواړو غاړو ته مېشت پښتانه سره وېشلي او د دوی د تگ راتگ او سوداگرۍ پر وړاندې یې نوې ستونزې پیدا کړې دي.

پاکستاني چارواکي د خپل دغه کار ننگه کوي او د ترهگرو د مخنیوي اقدام یې بولي، خو افغانان او د افغانستان دولت دا کار غندي او یو اړخیز اقدام یې بولي.


بلخوا د کرښې دواړو غاړو ته پرتو پښتنو نسلونه نسلونه پر دې لار ازاد تگ راتگ کاوه، خو په دې وروستیو کلونو کې پاکستان پر کرښې د اوښتو لپاره افغانانو ته ویزه اجباري کړې او پر کرښه یې د کټارې او اغزن سیم نصبولو ته دوام ورکړ. دې چارې د شاوخوا ۵۰ میلیونو پښتنو چې همدې کرښې سره وېشلي، ستونزې څو برابره کړې دي.

د ننگرهار د نازیانو اوسېدونکي عبدالرووف رسنیو ته ویلي: «د دواړو غاړو د ولسونو پر عادي ژوند یې ډېر منفي تاثیر کړی دی، مخکې به د نازیانو ولسونو په ارامه توگه خپل مالونه د ډیورنډ کرښې هغې غاړې ځړځایونو ته بوول، د هغې غاړې خلکو به خپل مالونه دې خوا را اړول، غم او ښادۍ کې مو له یوه او بل سره شرکت کاوه، دا ټول لهمنځه تللي دي.»

دا په داسې حال کې ده چې پاکستاني چارواکو په تېره جنوري میاشت کې وویل چې پر ۹۰ سلنه کرښه یې درې متره لوړه فلزي کټاره او اغزن سیم درولي او تر راتلونکې جون میاشتې پورې به پر ټوله کرښه دا کار وکړي.

پاکستان وایي، دا کار یې د ترهگرو د تگ راتگ د مخنیوي په موخه کړی، خو افغان چارواکي بیا وایي چې پاکستان په خپله خاوره کې ترهگرو ته پټنځایونه ورکړي دي. افغان چارواکو ویلي چې که پاکستان په ریښتینې توگه له ترهگرو سره د مبارزې هوډ لري، نو له لومړۍ یې دې په خپل هېواد کې پټنځایونه له منځه یوسي.

# ظریف: که امریکا د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون ته بېرته را ونه گرځي، سخت زیان به وکړي



ایران یوځل د امریکا له متحده ایالتونو غوښتي، چې د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون ته دې بېرته راوگرځي.

د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف په یوه مرکه کې د دې غوښتنې ترڅنگ ویلي چې امریکا دې پر ایران بندیزونه پای ته ورسوي. نوموړي د تهران له همشهري ورځپاڼې سره په مرکه کې ویلي: «وخت د امریکایانو له لاسه وځي، هم د پارلمان د لایحې په خاطر او هم د ایران له نوي کاله وروسته د انتخاباتي فضا له کبله.»

د یادونې ده چې په ایران کې نوی کال د حمل په لومړۍ چې د مارچ له ۲۱مې سره برابره ده، پیلېږي او د ایران انتخابات په جون میاشت کې ترسره کېږي.

هغه لایحه چې د ایران پارلمان په ډسمبر میاشت کې تصویب کړه، حکومت اړ باسي چې په هغه صورت کې چې امریکا د فبرورۍ تر ۲۱مې پورې بندیزونه نرم نه کړي، خپل اټومي دریځ بدل کړي. د یاد هېواد د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف زیاته کړې: «هر څومره چې امریکا دا موضوع ځنډوي، هومره به تاوان وکړي».

نوموړي همداراز ویلي چې ایران اړتیا نه لري چې د خبرو مېز ته وگرځي، بلکې دا امریکا ده چې باید د خبرو لپاره ځان ته ټکټ پیدا کړي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا پخواني ولسمشر ډونالد ټرمپ په ۲۰۱۸ز کال د ایران او د نړۍ د سترو قدرتونو ترمنځ له اټومي موافقې امریکا وایستله او د ایران پر ضد یې بندیزونه بېرته پیل کړل.

د امریکا د دغه اقدام په ځواب کې ایران په تدریجي ډول د تړون له ځینو برخو سرغړونې کړي او ویلي یې دي چې نور ژمن نه دی چې پر موافقې ودرېږي. تېره میاشت ایران تر ۲۰ سلنې پورې د یورانیمو غني کېدل بیا پیل کړل. دا هغه اندازه ده چې د ۲۰۱۵ز کال تر تړون مخکې یې خپل یورانیم هومره غني کول.

په ورته مهال د ولسمشر جو بایډن حکومت پر داسې لارو چارو غور کوي، چې بېرته دغه تړون ته راوگرځي. بایډن ویلي، که ایران تړون په کلکه رعایت کړي، واشنگټن به هم موافقې ته ستون شي، خو ایران ویلي چې واشنگټن باید لومړی بندیزونه نرم کړي.


تهران دغه راز پر پراخو امنیتي مسایلو چې د ایران د توغندیو پراختیا محدودوي، خبرې رد کړې دي. دا هغه وړاندیز دی چې واشنگټن یې یادونه کړې ده. د ایران له لوري د خپلو توغندیو د پراختیا په لړ کې د دغه هېواد د دولتي ټلویزیون د راپور له مخې، د ایران پوځ د روانې اونۍ د شنبې په ورځ (د فبرورۍ په ٦مه) د توغندیو د هایبریډ سونگ موادو د تولید یو مرکز او له اورې څخه د ویشتل کېدونکو راکټونو د جوړولو یوه فابریکه پرانیسته.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
**کابوکي**




په ډېلي کې هر تازه جګپوړی استازی تر خپل سلف ښه وي. خو اسلاماباد د جګپوړو استازو لپاره هغسې سوکاله ځای نه دی لکه پاکستاني هغو ته چې ډېلی دی. په ډېلي کې د پاکستان جګپوړی استازی آزادانه ګرځي او ډېر ملګري لري. همدارنګه که د پاکستان د جګپوړو استازو نومونه واخلې، نو سمدستي درته د بالمثل عمل خبره کېږي.

دا د خواشینۍ خبره ده، ځکه د وخت له ضایع کولو پرته بله مانا نه لري. که موږ د اړیکو ښه کېده غواړو، نو پکار ده چې مثبت ګرا و اوسو. له بېځایه نیوکو هېڅ هم په لاس نه راځي، له دې هېڅ هم نه جوړېږي چې سړی ووایي چې دا غلط دی او ها غلط دی.

رښتیا یوه خبره به درته وکړم چې جنرالان له یو بل سره ډېر راحته وي.

دوراني: د یوه هېواد د بهرنیو چارو وزارت دریځ باید د دغه هېواد د اعلان شوې پالیسي ښکارندویي وکړي. نو دا به متحاطانه وي. د یوه هېواد د بهرنیو چارو وزارت نه یوازې دا چې د دغه دریځ د ساتلو هڅه کوي، بلکې د تقویې لپاره یې هم هلې ځلې کوي.

یو بل د بهرنیو چارو وزارت به را واخلو؛ په امریکا کې (چې زموږ اړیکې ورسره کله ښې وي او کله ترینګلې) CIA او پنټاګون، په تېره بیا CIA د ښو سرتېرو غونډې عمل کوي، دوی وایي موږ باید په ترینګلي حالت کې سړه سینه پاتې شو، ځکه دا زموږ پالیسي ده، کانګرس بیا یو څه جدي وي. له بل پلوه که د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته وګورو، نو دوی بېخي خپل احساسات نه څرګندوي، په پېچلو شرایطو کې خپله خوله نه چوله کوي، بېخي لږې خبرې کوي او د پیغام په رسولو کې له ډېر احتیاطه کار اخلي. ښایي دغه اړیکې به وي همدغسې، خو دا د دوی مسئولیت هم دی.چې وروسته دې خوک ناڅاپه ګرېوان ته لاس در وا نه چوي، نو ښه به دا وي چې د پالیسي خلاف سړی څه و نه وایي.

دولت: ستاسو خبره بېخي سمه ده. ډیپلوماټان باید ډېر محتاط وي. دوی نو په دې پوره ماهر دي چې ساعتونه ساعتونه کار وکړي او پایله یې هېڅ هم نه وي.

سېنها: کېدای لامل یې هم دا وي چې د بهرنیو چارو وزارت د کامرو مخې ته غړېږي، خو فوجیان او د استخباراتو کارکوونکي بیا د بندو دروازو شا ته غړېږي.

دولت: هو کېدای شي چې دغه یې لامل وي، خو بشپړ لامل یې نه دی. خبره په بهرنیو چارو وزارت کې د ذهنیت ده، له پالیسي به یو سانتي هم اخوا دېخوا نه کوي. د ډیپلوماټانو د مخنیوي بلها ډېر مثالونه شته دي.آن د اګرې په سرمشریزه کې.چا ته هم معلومات نشته چې دغلته څه پېښ شول. مشرف ویل چې «ویویک کاتجو» دغه سرمشریزه له بن‌بست سره مخ کړه.

سېنها: دی په سیاست کې د مذاکراتو او سوله‌ییزو لارو پر ځای د زور کارولو پلوی دی.

دوراني: دی خپله مسئولیت ترسره کوي. موږ پر ده کله هم بد ګومان کړی نه‌دی، په تېره بیا په (آی پي اې) ناستو کې. دی په نرمه ژبه غړېږي، خبرو ته لیوالتیا لري، خو دی چې څه وایي نو هم د ده ذهنیت ښکارندویي کوي او هم یې د پیغام.

که د ډیپلوماتانو پر سویې خبره وکړم، نو زه درسره دا منم چې په پاکستان کې ستاسې سفیران د هند له غوره ډیپلوماټانو نه وي او چې د دندې په پای کې هند ته ستانه شي، نو هلته د بهرنیو چارو وزیران مقرر شي.

سېنها: دولت صېب وایي چې پاکستان د جګپوړو هندي استازو پر وړاندې ډېر جدي وي، تاسې یې ورسره منئ؟

دوراني: ممکن دغسې به وي.

دولت: دا یو واقعیت دی.

دوراني: خو دغه خبره مو د هر چا اړوند صدق نه کوي. تاسې چې زموږ د خوا کوم کس وپېژنئ، نو نفس یې پرې وباسئ.

دولت: په ډېلي کې د هند د داخلي استخباراتو په پرتله، اسلاماباد کې زموږ په سفیر پسې ISI ډېر ځري اچوي.

دوراني: دا یې د کیفیت ښکارندویي کوي. تر تقاعد وروسته ځینې آزدانه غړېږي او لیکل کوي، په نارسمي ډیپلوماتیکو اړیکو باندې مشهور دي، له «ریاض کهو کهر» پرته چې هغه مهال ده ته سخته وه.یو ځل د ډاکتر مبشر حسن (چې اوس یې عمر تر نوي کلونو اوښتی دی او ډېلي ته له لاهوره ځي او کله هم له اسلاماباده نه‌دی تللی.) او « مهاراج کرشنا رسګوترا» (چې د هند د ډیپلوماسي په تاریخ کې وتلې څېره ده) ترمنځ نارسمي خبرې اترې پلان شوې وې. مبشر حسن ورته د خپلې راتلونکې غونډې لپاره د دوو کسانو نومونه ورکړي وو؛ یو د ریاض کهو کهر او بل زما نوم. رسګوترا ورته ویلي چې له دواړو نومونو سره به ستونزې وي او موږ هم نه لاړو.

له ده پرته د نورو ټولو ښه قدر شوی دی؛ مثلاً عزیز خان چې د ډېلي د چارواکو د زړه سر و او نیاز نایک چې د نارسمي ډیپلوماتیکو اړیکو پلار یې بولي، نومونه یادولای شو. تر تقاعد وورسته دوی د اړیکو د ښه‌والي غوښتنه وکړه، چې یو مثبت حرکت و. هر نوی سفیر تر خپل سلف ځکه ښه وي، چې د ده کار د اړیکو سمبالول وي، خرابول نه. **دوام لري...**

# پوما

حشمت الله نوري



پوما آلماني څو ملیتي شرکت دی، دا شرکت سپورټي بوټ او همدارنګه سپورټي کالي جوړوي. مرکزي شرکت یې د المان د باوارایای په هرزوګنوراش کې دی. دا شرکت په ۱۹۲۴ کال کې د ادولف او رودلف داسلر لخوا جوړ شوی و، کله چې د دغو دوو وروڼو ترمنځ اړیکې خرابې شوې، نو اړ شول چې سره بېل شي. په ۱۹۴۸ کال کې یې هر څه وویشل او شرکت دوې برخې شو. په یوه یې اډیډاس نوم کېښود او په بل باندې یې پوما. پوما او اډیډاس دواړه په یوه ښار کې دي چې په یوه وخت کې یې ښه رقابت درلود.

پوما د فوټبال بوټ جوړوي، همدرانګه د ډېرې فوټبالستانو مالي ملاتړ هم کوي. له دې ډلې، اوزه بیو، یوهان کرایف، دیګو مارادونا، لوتار ماتئوس، کنی دالګلیش، تیری آنری، روبر پیرس، اولیویه ژیرو، مارکو رویس، مارکو وراتی، جیانلوییجی بوفون، ماریو بالوتلی او دیګو ګودین دي.

وروسته له دې چې رادلف داسلر له خپل ورور بېل شو، نو د لومړي ځل لپاره یې د شرکت نوم روډا کېښود او له هغه وروسته یې د شرکت نوم پوما کړ. دغه شرکت خپله لومړنۍ لوګو عجیب ډیزاین کړه، دایره وه، په دایره کې د ډې توری لیکل شوی و، د ډې له مینځه پړانګ ترپ کړي وو او په همدې کال یاد شرکت په همدې لوګو ثبت شو.

پوما شرکت په ۱۹۴۸ کال کې د رادلف داسلر لخوا جوړ شو، هغه یې د خپل ورور رودولف په مرسته په ۱۹۲۴ کال کې د سپورټي بوټونو پر تولید لاس پورې کړ. رودولف وروسته له دې چې له خپل ورور بېل شو، پوما شرکت یې جوړ کړ.

پلار یې د بوټو د تولید په یوه ځای کې کار کاوه، مور یې پاڼولین د کریستفر میرمن بیا بیا د کالیو د مینځلو یو کار ځای اداره کاوه، رادلف دوسلر همغه وخت چې کله ښوونځی خلاص کړ، له خپل پلار سره یې د بوټو په کارځای کې کار پیل کړ. وروسته له دې چې له دویمې نړیوالې جګړې راستون شو، د یوه چینایي شرکت مدیر شو، وروسته یې په آلمان کې د چرم په بازار کې ښه نوم پیدا کړ.

داسلر چې کله له لومړۍ نړیوالې جګړې راستون شو، نو د خپلې مور د کالیو مینځلو په کارځای کې یې د بوټونو په تولید لاس پورې کړ. وروسته په ۱۹۲۴ کال کې آوراخ ته راستون شو او له خپل ورور سره یې په ګډه د داسلر د بوټو د تولید کارځای جوړ کړ. وروسته یې بیا له خپلې مور سره په مشوره د کالیو د مینځلو په دوکان کې د بوټو په جوړولو پیل وکړ، هغه وخت د برق ستونزه وه، نو دوی اړ وو چې هلته بایسکل ته ورته له محلي جوړې شوې آلې د هنډل وهلو یا په وسیله د خپل واړه کارځای د ځینو کارونو لپاره برېښنا تولید کړي.

د ۱۹۳۶ کال په اوړي کې داسلر له څو جوړو بوټو سره ولاړ د امریکا- افریقا د المپیک نړیوالو سیالیو مرکز ته، ده هڅه کوله څو دوی په دې باور کړي چې د دوی بوټونه ښه کیفیت لري او باید د المپیک له لوري د ورزشي ښو بوټونو په بڼه ومنل شي. وروسته هلته د المپیک د یوه لوبغاړي او تل جسي اونز سره دې موافقې ته ورسید چې دی به هغه سپانسر کوي او په مقابل کې به یې دې ده د اغوستن توکي په سیالۍ کې اغوندي. په یادو سیالیو کې اونز د سرو زرو ۴ مډاله واخیستل او د سیالیو په پای کې یې وویل چې دې ده د بریا علت د داسلر بوټانو په پښو کولو کې و. همدا خبره وه چې له دې وروسته د نړۍ له ګوټ ګوټ داسلر ته غوښتنلیکونه لېږل کېدل او د نوو بوټانو فرمایشونه ورته راتلل. سلګونو ورزشکارانو دا هیله لرله چې داسلر ورته بوټان جوړ کړي. همدا وو چې تر دویمې نړیوالې جګړې مخکې دواړو ورورڼو هر کال تر ۲۰۰ زره جوړه بوټان پلورل او تولیدول.

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته دواړه وروڼه له نازي حزب سره یو ځای شول، خو رادلف وکړی شول چې د یاد حزب لوړو پوړیو ته ورسېږي. وروسته د دواړو وروڼو تر منځ اختلاف پیدا شو او دا ستونزه ورځ تر بلې ډېرېدله. دوی دواړو د نازیانو په اړه متخلف نظرونه لرل او په همدې یې تر منځ واټن ډېر شو او د بوټونو د تولید کاروبار خو بیخي په ټپه ودرید. وروسته له دې چې رادلوف امریکایي سرتېرو د اس اس مسلح د غړي په تور ونیو، آدولف یوازې پاتې شو، خو وروسته دا تور ورپورې شو چې هغه یې خپل ورور رادولف پر امریکایانو وپلورلو.

د داسلر وروڼو کارځای چې د دویمې نړیوالې جګړې په اوږدو کې یې د ټانک ضد د وسلو د تولیدي فابریکې په توګه کار کاوه، د امریکایانو لخوا ویجاړه شوه. خو وروسته له دې چې د آدولف میرمنې په محکمه کې داسې ادعا وکړه چې ګواکې د کمپنۍ کارکوونکو غوښتل بوټ جوړ کړي، خو نازیانو د وسلو جوړولو ته اړ ایستلي وو، کارکوونکي یې وبښل شول او کارځای همسې ویجاړ پاتې شو، چې ورو ورو یې په کار پیل وکړ. وروسته له دې چې امریکایي ځواکونو آلمان اشغال کړ، ډېرو یې بېرته د داسلر بوټونو اخیستلو ته مخه کړه.

وررورسته دواړه وروڼه په رسمي توګه له یو بل بېل شول، رادولف د رودا په نامه شرکت جوړ کړ، چې د نامه مخفف یې و، وروسته وروسته دا شرکت په پوما بدل شو، آدولف هم په ۱۹۴۹ کال کې آدیداس چې نوم یې د خپل نامه مخفف و جوړ کړ. سره له دې چې خلکو دې نامه ته بېل تعبرونه او تعریفونه جوړ کړل، د بېلګې په توګه، امریکایانو به ویل د دې نامه مانا ده: هره ورځ باید د سپورټ په اړه خیال وکړو (All Day I Dream About Sport)، خو داسې نه وه هغه یوازې د آډولف داسلر او د هغه د کورني نوم لنډیز و.

پوما او ادیداس له بېلتون وروسته په رسمي توګه خپل رقابت پیل کړ، په هغه ښار کې چې پوما او اډیډاس کمپنۍ وې، د کاږه ورمېږ د ښار په نامه مشهور شو، علت یې دا و چې هر چا به د نورو پښو ته کتل چې ته ودرېږه اډیډاس بوټ یې په پښو دي که پوما. په هغه وخت کې اس وی ای له اډیډاس کمپنۍ ملاتړ وکړ او دوی ته یې اجازه ورکړه چې په لوبو کې خپل بوټ وپلوري. ایف سي له پوما بوټو ملاتړ وکړ او خپلو لوبغاړو ته یې د دوی بوټ ور په پښو کړل. په ۱۹۴۸ کال کې چې کله لومړنۍ نړیواله جګړه پای ته ورسېده، نو د فوټبال لومړنۍ سیالي تر سره شوه، د غربي آلمان د فوټبال څو غړو د پوما بوټ په پښو کړي وو، په دې ډله کې نو تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته په نړیواله لوبه کې لومړني ګل وهونکي هربرت بوردنسکي هم پوما بوټ پښو کړي وو. دا نو هغه څه وو چې اډیډاس په رقابت کې مات شو او د پوما شهرت لوړو پوړیو ته ورسېد.

پوما اوس د نړۍ په ګوټ ګوټ کې لس زره کارکوونکي لري، محصولات یې د نړۍ په ۱۲۰ هېوادونو کې پلور ته وړاندې کېږي، په کال کې تر یو میلیارد یورو پورې عاید لري، پوما همدارنګه سپورټي یونفورم هم تولیدوي، په دې برخه کې د رېباک، ادیداس، او نایک تر څنګ ولاړ مشهور برنډ دی.

پوما شرکت همدارنګه د موټر ځغلونې، بوټ او کالي هم تولیدوي، په دې برخه کې مخکښ شرکت دی او د ډېرو سترو لوبو کالي همدا شرکت ورته تولیدوي. دوی په دې برخه کې د غوره نامه او کیفیت خاوندان دي.

پوما شرکت د نړۍ د نورو شرکتونو په څېر په دې باور دی چې کارکوونکو ته درناوی د کاري کیفیت او خدماتو د ښه والي ضمانت کوي. پوما کوښښ کوي چې خپلو ټولو کاروونکو ته اړینې اسانتیاوې برابرې کړي او همدارنګه دوی ته اجازه ورکوي چې کاري اتحادیې جوړې کړي او د خپلو حقوقو لپاره بحث وکړي. پوما د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خپلو محصولاتو د وړاندې کولو ۳۰۰ شرکتونه لري، دوی خپلواک دي او کولی شي د پوما محصولات په لوړه پیمانه د خپلې خوښې وړ له تخفیف سره وپلوري. پوما یو بل کار هم کوي له هغو شرکتونو سره چې له دوی محصولات وړي، لنډمهالی قرار داد لاسلیک کوي. په دې توګه نو که دوی په خپل کار کې ناغېړي وکړي، پوما ورسره خپل قرارداد فسخه کوي.

پوما کمپنۍ کوښښ کوي چې چاپېریال ساتنې ته ځان ژمن وښیي، خو داسې موارد ثبت شوي چې دوی په غیر مستقیمه توګه د چاپېریال په ککړتیا کې ښکېل دي. د بېلګې په توګه، په چین کې د دوی همکاره کمپنۍ یونګور ګروپ د یانګ تسه سیند د اوبو په ککړتیا کې پړه بلل شوې ده، نو د نقد ګوته پوما ته نېول کېږي. ویل کېږي چې په یاد سیند کې شیمیایي خطرناک مواد پیدا شوي وو او علت یې هم یاده کمپنۍ وه. همدا راز یاده کمپنۍ د خپلو محصولاتو له مینځلو او وچولو هم هوا ته زیانونه رسوي چې په وروستیو کې د ځینو هڅو له امله کابو شوي دي.

پوما کمپنۍ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د سپورټي سیالیو ستر مالي ملاتړ کوونکی شرکت دی. دغه کمپنۍ په ځانګړې توګه په آلمان کې د ډېریو ټیمونو مالي ملاتړ کوي. پوما اوس هم فعاله کمپنۍ ده، سلګونه کسان کار ورسره کوي او د سپورټي محصولاتو په برخه کې تر ټولو د باور وړ کمپنۍ او ازمایل شوی برنډ دی. په وروستیو کې کوښښ کوي چې له نوې ټکنالوژۍ په استفادې بوټ بازار ته وړاندې کړي.

عامل مدیر یې بورن ګولدن او د مدیره هیت مشري یې یوخن زایتس کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳ |
| € | ۹۲,۸۵ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۴,۳ |

### بیړنی شمیري

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی


# مناسبې جامې اغوستل او مثبت اغېز يې

ژباړه: حمیدالله حمیدي

له دې انکار نه شي کېدای، چې د جامو اغوستلو ښه زموږ په ژوند کې ډېر مهم رول لري او یا په بل عبارت؛ د جامو اغوستلو اغېز پر شخصیت باندې دومره ډېر دی، چې سترگې نه شي ور باندې پټېدای. دا په داسې حال کې ده چې په دې منځ کې یوه کوچنۍ پوله هم شته، چې ښکلې جامې بیا د انسانیت بېلگه نه شي کېدای، چې دغه څه بیا زموږ په کلتور کې ښه واضح شوي دي. خو له بله اړخه د جامو رنگ او ښه بیا تر ډېره بریده زموږ د شخصیت ښکارندویي کوي.

کله چې له یوه چا سره د لومړي ځل لپاره وینو، هغوی زموږ د شخصیت په اړه په څه نه پوهېږي او په دې برخه کې معلومات نه لري، نو د دې لپاره چې پوه شي له موږ سره په کوم ډول خبرې او چلن وکړي، زموږ ظاهري بڼې ته په کتو خپلې خبرې او چلن تنظیموي. موږ خپله یو چې خلکو ته د دې موقع په لاس ور کوو، چې له موږ سره باید څنگه چلن وکړي. مهم ټکی دلته دا دی، چې موږ د جامو پر برنډ او ارزښت باندې خبرې نه کوو، اصلي خبره دلته د رنگ، موډل، پاکۍ، عطرو او زموږ د جامو ده. که موږ ډېرې گرانه بیه او افتخاري جامې اغوستې وي، خو د اغوستو ځای یې مناسب نه وي او یا هم ډېرې خیرنې وي، بد بوی ترې ځي؛ نو هغه ده چې خلک به مو څنگ ته نه راځي او لرې به را څخه گرځي. خو که مو ډېرې معمولي جامې اغوستې وي، له ځای او موقع سره برابرې وي، پاکې وي، نو زموږ په اړه د خلکو د تفکر په برخه کې ډېرې اغېزناکې پرېوځي.

د مناسبو جامو د ټاکلو لپاره او د دې لپاره چې پوه شو جامې زموږ پر شخصیت څومره اغېز ښیندلی شي؛ په یو وخت باید څو ټکي په پام کې ونیسو. د بېلگې په توگه، زموږ په هېواد کې دیني مسایل، کلتوري مسایل، قومي، ټولنیز، جنسیتي مسایل، اب هوا او نور ټول باید په یو وخت په پام کې ونیول شي. تاسو د یوه نارینه او یا یوې ښځینه په توگه د عمر او دندې په پړاوونو کې له بېلابېلو ټاکنو سره مخ یاست، چې هر یو یې پر خپل ځای خپل اغېز لري او ستاسو ټولنیز شخصیت تر اغېز لاندې را وستلای شي. د هر چا جامې د خلکو په نظر د هغه شخصیت ښکارندويي کوي، نو کولای شم ووایم، د ځانگړو جامو په اغوستلو سره تاسو نورو خلکو ته د خپل شخصیت په اړه معلومات په واک کې ورکوی.



هغه کسان چې غواړي په عمومي اذهانو کې د یوه بریالي کس په توگه را څرگند او وپېژندل شي، نو دغو ټکو ته باید پام وکړي:

۱. له کچې زیاتو زېوراتو څخه باید استفاده ونه شي. د بېلگې په توگه، بریالی مېرمنې د رسمي چارو پر مهال هېڅکله هم محلي زېوارت نه اچوي او لویې گوتمۍ نه په گوتو کوي.

۲. د یادښت کتابچې نوي والي ته مو پاملرنه وکړئ. که مو د یادښت د کتابچې پوښ زوړ شوی وي، خوړین شوی وي، رنگ یې الوتی وي او په لاس کې یې در سره گرځوی، نو دا داسې ده لکه له یوې لوکسې دربشۍ سره چې چپلکې په پښو کړئ.

۳. دا به ډېره ښه وي چې د کمربند، بوټونو، د گړۍ د بند او لاسي بکس د رنگونو تر منځ مو همغږي موجوده وي.

۴. غوره به دا وي چې د ژمي بوټ په ژمي او د اوړي بیا په اوړي کې په پښو کړل شي. ځانگړې ځنځیر لرونکي بوټونه او موزې تر ډېره د منې په اخر او ژمي کې اغوستل کېږي، نو هڅه وکړئ چې په پسرلي او اوړي کې یې په پښو نه کړئ.

۵. د نارینه او ښځینه دواړو لپاره په رسمي محفلونو کې د لویو گوتمیو په گوتو کول نه وړاندیز کېږي او زېب نه ور سره کوي.

۶. ښه دا ده چې د رنگونو تر منځ د همغږۍ په برخه کې پوره دقت وشي. ځینې وخت وینئ چې د جامو یو ډول رنگ له یوه چا سره ډېر ښه برېښي، خو کېدای شي ستاسو د پوستکي د رنگ د روښوالي یا پیکه والي، وزن د زیاتوالي یا کموالي او یا هم دا چې ستاسو ونه ټیټه ده ښه در سره ونه برېښي. نو ښه ده چې له خپل قدو قامت او څېرې سره یو همغږی رنگ معلوم کړئ او ویې کاروئ. دغه راز که مو د گوتمۍ او چلې رنگ د گړۍ، له رنگ سره سر وخوري، نو دومره به ښایسته ښکاره شي چې پوښتنه یې مه کوه.

۷. ځینې کسان د نکټایۍ په تړلو کې افراط او تفریط کوي. د نکټایۍ د تړلو تر ټولو غوره اندازه دا ده چې د کمر بند د گل تر ښخ پورې مو را ورسېږي.

۸. په یخه هوا کې معمولاً د بالا پوش او جمپر وړاندیز کېږي، خو یو څه مو باید په یاد وي، چې له بالا پوش سره کېناستل، بیا په رسمي ناستو کې د جامو له تشریفاتو سره په ټکر کې عمل دی. همدا چې تړلې ساحې ته ننوتئ، بالا پوش باید و ایستل شي او مناسب ځای کې ځوړند کړل شي.

۹. په ښار او بازار کې د بوټونو بېلابېل ډولونه شته، چې د بېلابېلو جامو لپاره طراحي شوي دي. د بېلگې په توگه، دا نه شي کېدای چې تاسو له نکټایۍ او دربشۍ سره د سپورت بوټونه په پښو کړی او یا هم د دې برعکس. د نارینه وو لپاره تر ټولو غوره رسمي بوټان اکسفورډ یانې هماغه بند لرونکي کلاسیک بوټونه دي، چې تر ښنگرو پورې لوړوالی لري. اکسفورډ بوټونه بیا په خپل ذات کې دوه بېلې بڼې لري، توپیر یې یوازې د بوټ پر مخ د بندونو په تړلو کې دی. کلاسیک او اصلي یې اکسفورډ بالورال (Oxford Balmoral) نومېږي چې ډېر رسمي دي او ټولو نارینه وو ته پکار ده چې له دې بوټونو باید یوه یوه جوړه ولري. د دې بوټونو ښېگڼه دا ده چې هېڅکله له موډ نه لوېږي او بله دا چې له دربشۍ سره ښه سرخوري.

۱۰. د نښان، مډال او یا د هېواد د بیرغ ټومبلو ځای په کرتۍ کې معلوم دی. د هرې کورتۍ د یخن په کینه خوا کې دقیق د زړه پر سر یو کاج لیدل کېږي، چې د نښان، مډال او یا د هېواد د بیرغ ټومبلو لپاره ځانگړی شوی دی. معمولاً ځینې کسان له دې کاج لاندې یاد نښانونه ټومبي.

لکه څرنگه چې پاس یادونه وشوه، منظمې جامې اغوستل، زموږ د بریا په برخه کې مهم رول لوبوي، نو هېڅکله هم په کمه سترگه مه ورته گورئ.

## عامې روغتیا وزارت: ډېر ژر به په افغانستان د کرونا ضد واکسین پروگرام پیل شي

عامې روغتیا وزارت وایي، چې افغانستان په لومړي ځل د دوه نیم لکه وگړو لپاره پنځه سوه زره ډوزه واکسین مرسته له هندوستان څخه ترلاسه کړه. یاد وزارت وایي، د هند له خوا د مرسته شوي کرونا ضد واکسینو تطبیق ښایي یوه اونۍ یا هم لس ورځې وروسته پیل شي.

د دغه وزارت سرپرست وحید مجروح پرون د دغو واکسینونو د ترلاسه کولو پر مهال وویل، چې د روغتیا نړیوال سازمان لا تر دې دمه یاد واکسین نه دي تایید کړي، خو ټینگار یې کړی چې د روغتیا نړیوال سازمان د یادو واکسینو په اړه د څېړنو ډاډ ورکړي او د دوی له تاییدۍ وروسته به یې د تطبیق چارې پیل شي.

هغه ویلي: «د روغتیا نړیوال سازمان سره چې موږ خبرې کړې راته یې ویلي چې د یوې اونۍ یا لسو ورځو په موده کې به د دې واکسینونو د کیفیت د تاییدۍ تصدیق وشي، کوم پلان چې اوس موږ لرو دا واکسین به زموږ مرکزي گودام او وروسته به ولایتي گودامونو ته انتقال شي او کله چې واکسین د روغتیا نړیوالې ټولنې تایید کړ، په هېواد کې به یې د تطبیق چارې پیل شي.»



نوموړی وایي، دا واکسین په لومړي پړاو کې یو نیم لک روغتیایي کارکوونکو ته تطبیقېږي. د عامې روغتیا وزارت د مرستیال د معلوماتو پر بنسټ، یاد واکسین به له روغتیایي کارکوونکو وروسته، ښوونکو، امنیتي ځواکونو، بندیانو او دغه شان د لوړ عمر لرونکو کسانو ته ورکول شي. مجروح دا هم وویل، چې اوسمهال یاد واکسین د عامې روغتیا وزارت په سړو خونو کې ساتل کېږي او وروسته د یو میکانېزم پر بنسټ ټولو ولایتونو ته استول کېږي.

هغه وایي، د کابل په حامد کرزي هوایي ډگر کې د پنځه او په ټول هېواد کې د دېرش میلیونه ډوزه واکسینو د ساتلو ظرفیت موجود دی. افغانستان ته د هندوستان له لوري په داسې حال کې د واکسینو لومړۍ جوپه رسېږي، چې په دغه هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې مخ په کمېدو دي.

د عامې روغتیا وزارت مرستیال وحید مجروح وایي، چې د کرونا ویروس دویمه څپه کنټرول شوې، خو لا هم صفر شوې نه ده. دی له خلکو غواړي چې لا هم له احتیاطي تدابیرو کار واخلي چې د کرونا ویروس د خپرېدو لا مخنیوی وشي. بلخوا د هندوستان د بهرنیو چارو وزیر جی ایس شنکر پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي، چې د کرونا ضد مبارزه کې د افغانستان ترڅنگ ولاړ دي.

په کابل کې د هند سفارت شارژدافیر راگورام اېس افغانستان ته د دغه واکسینو د سپارلو پر مهال وویل، هند نړۍ ته د درملو جوړولو لوی کاروباري هېواد دی، خو لومړیتوب د افغانستان په څېر خپلو گاونډیو هېوادونو ته ورکوي.

هغه زیاته کړه: «هندوستان خوښ دی، چې له افغانستان سره په ښو او سختو وختونو کې اوږده تاریخي همکاري لري، موږ له افغانستان سره یو او دې ته (واکسین د دوستي په نوم) نوم ورکوو، هندوستان د نړۍ درملتون دی، زموږ د واکسینو ظرفیت لوړ او عملي شوی دی، موږ د دې واکسینو سوداگریز اړخ پرېږدو؛ ځکه چې باید له ټولو سره مرسته وکړو، په ځانگړې ډول له گاونډیو هېوادنو سره لکه افغانستان.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د روغتیا نړیوالې سازمان او د نړۍ د یو شمېر هغه هېوادونو نومونه خپاره کړي، چې د کرونا ضد واکسین ورکول کېږي. د دغه لېست پر بنسټ به د «کوواکس» پروگرام په لومړي پړاو کې افغانستان ته څه دپاسه درې میلیونه کرونا ضد واکسین ورکول کېږي. دغه شان به افغانستان د برېټانیا په اکسفورډ پوهنتون کې جوړ شوي واکسین هم ترلاسه کړي.

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت وایي، چې په کابل کې د چین سفارت هم ژمنه کړې چې افغانستان ته به دوه سوه زره ډوزه کرونا ضد واکسین ورکوي، خو په اړه یې نور معلومات ورنه کړل. د دغه وزارت د شمېرو له مخې، تر دې مهاله په افغانستان کې ۵۵ زره کسان په کرونا ویروس اخته شوي او له ۲۴۰۰ ډېر ترې مړه شوي دي.


مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








دوشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۰مه | د ۲۰۲۱ د فبروري اتمه | ۶۷۷یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۲۱ | ۱۷ | ۱۹ | ۲٤ | ۱٤ |
| ۲ | ۳ | ۵ | ۱۱ | ۹ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۱ | لمر ختل ۰۶:٤۶ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۵۱ | ماښام ۰۵:۳۰ | ماخوستن ۰۶:۵۵

## وزارت خارجه:
# سازمان ملل، طالبان را به پذیرش آتش‌بس وادار کند



وزارت خارجه از گزارش اخیر سازمان ملل متحد در مورد ادامهٔ روابط گروه طالبان با شبکهٔ القاعده و سایر گروه‌های تروریستی استقبال کرده و از این سازمان و شریکان بین‌المللی افغانستان خواسته است تا این گروه را وادار به پذیرش آتش‌بس کنند.

وزارت خارجه با نشر اعلامیه‌یی هم‌چنان از سازمان ملل متحد و سایر شریکان بین‌المللی افغانستان خواسته است که گروه طالبان را وادار به ختم قتل‌های هدف‌مند و قطع رابطه با گروه‌های تروریستی کنند.

در اعلامیه تأکید شده است که گروه طالبان به منظور مساعدشدن زمینه برای گفت‌وگوهای معنادار صلح و دست‌یابی به راه حل سیاسی به هدف برقراری صلح پایدار در افغانستان، باید آتش‌بس را بپذیرند، به قتل‌های هدف‌مند پایان دهند و رابطهٔ خود با سایر گروه‌های تروریستی را قطع کنند.

در بیست‌وهفتمین گزارش «گروه تحلیل و نظارت از تعزیرات شورای امنیت سازمان ملل متحد علیه گروه القاعده، داعش و گروه‌ها و نهادهای وابسته به آن‌ها» که پنج روز پیش (چهارشنبه، پانزدهم دلو) به نشر رسیده، آمده است که طالبان هم‌چنان با گروه‌های تروریستی از جمله القاعده رابطه دارند.

بر بنیاد گزارش، این رابطهٔ طالبان با القاعده، داعش و شماری دیگر از گروه‌های تروریستی هنوز پابرجا و محکم است و کشته‌شدن چندین فرمانده القاعده به شمول حسام عبدالرووف مشهور به «ابومحسن المصری»، فرمانده پیشین ارشد شاخهٔ القاعده در شبه‌قارهٔ هند، در منطقهٔ زیر نفوذ طالبان در ولایت غزنی گواه این مدعاست.

## نړۍ



۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوه میلیونه او ۳۲۲زره کسانو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۰۶میلیونه او ٤۲۹ زره او ٤۸۵ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۳۲۲زره او ٦۹ کسان مړه شوي او له ۷۸ میلیونو ډېر تري بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۷ میلیونه او ۵۲۱ زره او ٤۲۱ ته رسېدلي او ٤۷۳ زره او ۵٤۳ نور امریکایان تري مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۸۲۸ زره او ۱٦۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د نهه میلیونه او ٤۹۷ زره او ۷۹۵مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د دری میلیونه او ۹٦۷ زره او ۲۸۱ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېتانیا د دری میلیونه او ۹۲۹ زره او ۸۳۵مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## عراقي رسنۍ: په سیمه کې د امریکا نظامي حضور د بې ثباتۍ او ګډوډیو لامل شوی

عراقي رسنیو د دغه هېواد د چارو د شنونکو له قوله ویلي، چې په عراق، سوریه، یمن او لیبیا کې د ګډوډیو او ناپایه جګړو لامل د امریکا نظامي حضور دی.


په دغه راپور کې راغلي، د دوی د څېړنو له مخې د نړۍ په هر ګوټ کې چې امریکا نظامي حضور لري، هلته بې ثباتي هم حتمي وي. په یاد راپور کې دغه راز راغلي چې امریکا عراق ته د امن او یو غوره سیاسي نظام د جوړېدو لپاره راغلې وه، خو په دغه هېواد کې یې قتل عام کړی دی او ملي شتمنۍ یې له نابودۍ سره مخ کړې دي.

کارپوهانو له دغه هېواد د امریکایي نظامیانو پر وتلو ټینګار کړی او د خپل هېواد پر واکمنانو یې غږ کړی دی چې هر څه ژر باید له دغه هېواده د امریکایي ځواکونو وتلو ته زمینه برابره کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د عراق پارلمان هم د دغه هېواد پر حکومت فشارونه ډېر کړي چې عراق څخه دې د امریکایي او نورو بهرنیو ځواکونو د ایستلو لړۍ چټکه کړي. د یاد هېواد پارلمان تېر کال پرېکړه وکړه چې د امریکا په ګډون دې ټول نړیوال ځواکونه په بېړني ډول له یاد هېواد څخه ووځي.


## ژوند

## شیاومي نړیوالو بازارونو ته مي۱۱ وړاندې کوي



شیاومي کمپنۍ د ۲۰۲۰ په ډسمبر کې خپل تر ټولو پیاوړی او غوره ځانګړنې لرونکی ځیرک موبایل، شیاومي مي۱۱، معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل دغه بیه کې تر ټولو غوره ځانګړنې لري، خو ستونزه دا ده چې یوازې چینایي بازارونو کې خرڅلاو ته وړاندې شوی و. په پیل کې هم تمه کېده چې دغه ځیرک موبایل به نړیوالو کارونکو ته هم وړاندې شي، خو اوس شیاومي کمپنۍ نړیوالو بازارونو ته د دغه ځیرک موبایل د وړاندې کېدو رسمي نېټه اعلان کړه. شیاومي کمپنۍ اعلان کړی چې د فبروري په ۸مه به د یوې رسمي غونډې له لارې دغه ځیرک موبایل معرفي او مختلفو نړیوالو بازارونو کې به یې خرڅلاو ته وړاندې کړي. که څه هم خپله شیاومي په نړیوالو بازارونو کې د مي۱۱ بیې په اړه څه نه دي ویلي، خو اټکل کېږي چې ځینو هېوادونو کې به د دغه ځیرک موبایل د ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ٦۱۰ امریکایي ډالره یا تر دې لوړه وي.

## د کدو تر ټولو مهمې روغتیایي ګټې



شیاومي کمپنۍ د ۲۰۲۰ په ډسمبر کې خپل تر ټولو پیاوړی او غوره ځانګړنې لرونکی ځیرک موبایل، شیاومي مي۱۱، معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل دغه بیه کې تر ټولو غوره ځانګړنې لري، خو ستونزه دا ده چې یوازې چینایي بازارونو کې خرڅلاو ته وړاندې شوی و. په پیل کې هم تمه کېده چې دغه ځیرک موبایل به نړیوالو کارونکو ته هم وړاندې شي، خو اوس شیاومي کمپنۍ نړیوالو بازارونو ته د دغه ځیرک موبایل د وړاندې کېدو رسمي نېټه اعلان کړه. شیاومي کمپنۍ اعلان کړی چې د فبروري په ۸مه به د یوې رسمي غونډې له لارې دغه ځیرک موبایل معرفي او مختلفو نړیوالو بازارونو کې به یې خرڅلاو ته وړاندې کړي. که څه هم خپله شیاومي په نړیوالو بازارونو کې د مي۱۱ بیې په اړه څه نه دي ویلي، خو اټکل کېږي چې ځینو هېوادونو کې به د دغه ځیرک موبایل د ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ٦۱۰ امریکایي ډالره یا تر دې لوړه وي.